بسم الله الرحمن الرحيم

گرانو هیوادوالو، خویندو او وروڼو، السلام علیکم و رحمت الله

د پاك الله په دربار کی شکر گذاره یم چی ماته ئی روغتیا، وس او هیوادوالو ته د چوپړ اراده او هوډ په برخه کړی دی.

ددی نعمتونو په شکرانه کی، او په تیره بیا د کابل د ښاریانو د زرکسیزی غوښتنی وروسته چی په هغی کی دی درنو هیوادوالو، د نظر په پوره یووالی، زمانه د پلوی په ترڅ کی، دنده راوسپارله چی د هغوی دا ستاځیتوب لپاره د کابل د شریفو خلکو په نماینده گی ولسی جرگی غړیتوب ته ځان کاندید کړم پریکړه می وکړه چی دپورتنی غوښتنی پوره کولو لپاره ځان چمتو کړم. که د پاك خدای اراده وه، او تاسو د کابل اوسیدونکو شریفو هیواد والو راته را یه راکړه، دا لاندینی دندی او مراتب به د خپل عمل او نظر په سرلوحه کی ځای کړم:

- د دموکراسی، اجتماعی عدالت، د خلکو د حقونو او دموکراتیکو غوښتنو، مدنی ټولنی دپراختیا او اغیزمنتیا په لار کی کلکه مبارزه،

- د هیواد د اغیزمنی او مهمی نیمیایی، یعنی د ښځو د مشروع حقونو او آزادیو څخه دفاع او د ټولو هغو اقداماتو او کړونو څخه چی د پرمختك، اقتصادی پروگرامونو د پراختیا، په موخه تر سره کیږی ملاتړ او پلوی.

- د سولی، ملی یووالی، افغانی خپلمنځی پوهاوی، د قانونیت ټینگښت او په پارلمان کی دننه او د نظام په نورو کړیو کی د سالمی کاری فضا د رامنځ ته کیدو داداری مفاسدو، ډول ډول انحرافاتو او د هغی ډلی نه د مخدره توکو تولید، ترافیك او قاچاق او د اسلامی او ملی ضد اعمالو پرخلاف مجاهدت او زیار.

- د قوانینو جوړښت او د هغی پر پلی کیدو نظارت د پارلمان اساسی دنده ده. په دی لړ کی به د اسلام د مقدس دین اطاعت او رعایت کوم او دولسونو او پراخو پرگنو مشروع حقونه او غوښتنی به د قانون جوړونی په پروسه کی دخپل عمل او نظر د لارښود په توگه په پام کې نیسم.

- هغو سترو ستونزو ته په پاملرنی چی د ورورژنی جگړی د کلونو په ترڅ کی زموږ پر هیواد تپل شوی او لاتپل کیږی او دهغی نه رامنځته شوی انسانی، مادی او معنوی زیانونه چی پایلی یی نه یوازی د خلکو په دربدری کې را څرگندیږی، چی لانوری سترې ستونزی یی د خلکو، د شخصی او کورنی سطحی ستونزو نه نیولی بیا تر قومی، اتنیکی، ژبنی او مذهبی خپلمنځی او متقابلو اړیکو کې زیږولی دی، په ټول هیواد کی به ددی مصیبت په وړاندی کلکه مبارزه او هغی ته دپای دټکی ایښودل خپله ستره اسلامی او ملی دنده بولم.

- زه د خپلو مؤکلینو په وړاندی، د ادارو په مقابل کی د هغوی د حق پلوی، د اقتصادی او ټولنیز پرمختگ دبهیر، متوازن معارف دپراختیا، صحت او کار موندنی د حق نه دفاع او د هوا او چاپیریال د ککړتیا سره په مبارزه کی ځان مکلف گنم.

- زه به د ملت په کور (پارلمان کی) د خپلو مؤکلینو د اعتراض او استغاثی اوچت غږ ووسم او د دوی د ستونزو او پرابلومونو د حل په لاره کې به هیڅ ډول هڅه او هاند ونه سپمه وم. انشاء الله و تعالیٰ

و من الله التوفیق